**<u>مطبوعاتي اعلاميه</u>**

**مننه او کورودانی**

**رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي: «مَنْ لَا يَشْكُرُ النَّاسَ لَا يَشْكُرُ اللهَ» (څوک چې له خلکو څخه مننداوی نه وي، له الله سبحانه وتعالی څخه مننه نه کوي.)**

**(ژباړه)**

د ۲۰۱۹م کال د جون په ۱۰مه دوې پربکړې د حزب التحریر په ګټه تمامې شوې. لومړي وزیر د حزب التحریر د فعالیتونو د درولو په موخه دغه دوې قضیې وړاندې کړې وې، چې د مدني ټولنې او اساسي قانون وزیر المهدي دا طرحې ومنلې.

کله چې موږ د نهیلی پړاو ته نیږدې شو، نو دغه نېکمرغه امت یو څراغ روښانه کړي. په زړه پوري او د پام وړ خبره خو دا ده چې د دغه څراغ رڼا له داسې ځای څخه راځي چې په هېڅ ډول نه غواړي د نورو د لاس آله شي، په داسې حال کې چې په وار وار د ځینو مغرضو او خرڅو شووو رسنیزو سازمانانو له نیوکو سره مخ شوی. نن قضایه قوې په ځانګړې توګه د استیناف محکمې له حزب التحریر څخه ملاتړ وکړ.

دا حزب یوازې سیاسي فعالیتونه کوي او له پیل څخه تر اوسه پرې کوم مادي فعالت نه دی ثابت شوی. د دوی له انده د دغه حزب جرم دا دی چې خپل سیاسي فعالیتونه نه دروي او له تخنیکي اړخه د ژوند له تنظیم سره کومه اداري ستونزه نه لري. دوی یوازې تاریخ تېره کپیټالیزم نظام نه غواړي او وایي چې د بهرنیانو اطاعت ته باید د ژوند د اړتیا په توګه ونه کتل شي.

په همدې هیله چې هغو کسانو ته د ملاتړ لاس اوږد کړو چې عدالت کوي او حق ته غاړه ایږدي او مونږ پوهیږو چې دا به هغوی له ستونزو او مصیبتونو سره مخ کړي. الله سبحانه وتعالی دې هغو کسانو ته اجر ورکړي چې له موږ سره یې په دغو قضیو کې مرسته وکړه. حزب التحریر له دوی سره ژمنه کوي چې دوی به پر هغه ایډیالوژۍ ثابت پاتې کېږي او هغه لویې مسلې به په پام کې نیسي چې د امت لپاره برخلیک ټاکونکې دي.

هغه کسان د ستاینې وړ دي چې له حق سره دریږي او په بې عدالتۍ کې په پاتې کېدو شرمېږي.

**وکیله حنان خمیري**

**د حزب التحریر-ولایه تونس مطبوعاتي دفتر د ښځو د برخې رسمي ویانده**

**۱۴۴۰هـ ق کال، د شوال ۸مه**

**۲۰۱۹م کال، د جون ۱۱مه**

**د صدور ګڼه: 30 /1440**